
# د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل



خیړندوی شوکت الله عابد

د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل

خیړندوی شوکت الله عابد



# ECONOMIC DEVELOPMENT FACTORS OF AFGHANISTAN

Assistant Prof. Shaukatullah Abid

2023

ISBN 978-9936-661-58-5
9 789936 661585

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل

لیکوال: خیړندوی شوکت الله عابد

## د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل

**لیکوال:** څېړندوی شوکت الله عابد

**ایډېټور او مهتمم:** څېړنیار ضیاءالحق څلاند

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۴۴۵هـ. ق (۱۴۰۲هـ.ش)

**مطبعه:** بهیر مطبعه

**ISBN:** 978-9936-661-58-5



د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخ**

تقریظ (څېړنپوه حفیظ الله حداد)........................................................أ

نظر (معاون سرمحقق محمد ولید همت)..................................................د

سریزه..................................................................................د

## لومړی فصل

## د اقتصادي ودې او پرمختیا ځینې مفهومونه

۱. ۱.اقتصادي وده.................................................................۷

۱. ۲.د اقتصادي پرمختیا مفهوم.......................................................۸

۱. ۳.متوازنه او غیر متوازنه اقتصادي پرمختیا.......................................۱۱

۱. ۴.د اقتصادي پرمختیا کلاسیک او مدرن مفهوم.....................................۱۳

## دویم فصل

## د اقتصادي ودې عوامل

۲. ۱. اقتصادي عوامل................................................................۱۵

۲. ۲.غیر اقتصادي عوامل..............................................................۱۹

۲. ۳.ټولنیز عوامل.....................................................................۲۰

۲. ۴.انساني عوامل....................................................................۲۰

۲. ۵. سیاسي عوامل ........................................................................ ۲۱
۲. ٦. هېوادنۍ اقتصادي پرمختیا څرنګه منځته راتلای شي! ................................. ۲۱

## دریېیم فصل

## پانګونه او پر اقتصاد یې اغېزې

۳. ۱. پانګه، پانګونه او ډولونه یې ........................................................ ۳۱
۳. ۲. بهرنۍ مستقیمه پانګونه، ډولونه او موخې یې ........................................ ۳۹
۳. ۲. ۱. د بهرنۍ مستقیمې پانګوونې ډولونه ................................................ ٤۰
۳. ۲. ۲. د بهرنۍ مستقیمې پانګونې موخې، فرصتونه او ننګونې ......................... ٤۲
۳. ۳. د افغانستان په اقتصادي پرمختیا کې د پانګونې اغېز .............................. ٤٦
۳. ۴. په هېواد کې د پانګې د کموالي علتونه ................................................ ۵۰

## څلورم فصل

## د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې د ځینو اقتصادي او ټولنیزو برخو اغېزې

۴. ۱. د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو سکتور ................................................ ۵۷
۴. ۱. ۱. د کرنې سکتور پر وړاندې پرتې ننګونې او د هغو حل لارې ...................... ٦۰
۴. ۱. ۲. د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې د مالدارۍ ارزښت .............................. ٦٦
۴. ۱. ۳. په اقتصادي پرمختیا کې د اوبو د مدیریت رول ....................................... ٦۹
۴. ۲. د صنعت او کانونو سکتور .............................................................. ۷۸
۴. ۲. ۱ کانونه د اقتصادي پرمختیا د عامل په توګه .......................................... ۸۵

۴.۳. په اقتصادي پرمختیا کې د سوداګرۍ د سکتور رول..................................۸۹
۴.۴. په اقتصادي پرمختیا کې د ترانزیټي لارو او بندرونو رول ...........................۹۳
۴.۵. په اقتصادي پرمختیا کې د ښوونې او روزنې سکتور رول ..........................۱۰۰
۴.۶. په اقتصادي پرمختیا کې د امنیت او ملي ثبات رول....................................۱۰۷

## پنځم فصل

## لرې پرتې سیمې او اقتصادي پرمختیا

۵.۱. د لرې پرتو سیمو پر وړاندې پرتې ستونزې او د هغو حل لارې ................۱۱۲
۵.۱.۱. د وګړو اړوندې ستونزې او حل لارې .........................................................۱۱۳
۵.۱.۲. د کرنې او مالدارۍ اړوند ستونزې او حل لارې...........................................۱۳٤
۵.۱.۳. د زیر بناء اړوند ستونزې او حل لارې .........................................................۱۳٦
۵.۱.۴. اقتصادي ستونزې او حل لارې ..................................................................۱۳٦
۵.۱.۵. د رهبرۍ اړوند ستونزې او حل لارې ...........................................................۱۳۷
۵.۱.٦. اداري ستونزې او حل لارې ........................................................................۱۳۸
۱.۵.۷. امنیتي ستونزې او حل لارې ........................................................................۱۳۹
۵.۱.۸. سرحدي ستونزې او حل لارې .......................................................................۱٤۰
**پایله**.......................................................................................................................۱٤۲
**وړاندیزونه**...........................................................................................................۱٤٤
**مأخذونه**..............................................................................................................۱٤۸

# تقریظ

د ښاغلي شوکت الله عابد علمي - تحقیقي رساله «د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل» تر سرلیک لاندې د علومو اکاډمي د اجتماعي علومو د مرکز د اقتصاد انستیتوت د علمي شورا د پریکړې له مخې چې د (۱۵۳) ۵/ ۸/ ۱۳۹۹ گڼې مکتوب پر اساس ما ته د دې رسالې د اهمیت، مبرمیت او چاپ په موخه دنده راکړل شوې وه، تر څو په اړه یې خپل نظر ولیکم.

دغه رساله مې سر تر پایه دوه ځلې ولوستله اړین اصلاحات، بدلونونه او نظریې مې له لیکوال سره شریکې کړې او نوموړي هم په ډېره لېوالتیا هغه منلي او اړین اصلاحات او بدلونونه یې په دغې رساله کې په تېرو درېوو کلونو کې راوستلي دي، چې ډېر د اهمیت او ارزښت وړ رساله ترې جوړه شوه؛ نو زه خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم:

د اقتصاد علم د انساني نه پوره کېدونکو اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو په موخه د موجودو لږو امکاناتو او زېرمو څخه اغیزمنه گټې اخیستنې، تولید او وېش دی. نو هره ټولنه پرته له دې چې څه ډول اقتصادي نظام لري، د دې علم پوهېدو په رڼا کې یې عمل کولو ته اړمنه ده او وي به؛ نو دا پوښتنه رامنځته کېږي چې د دې علم په رڼا کې د ټولنې (هېواد) پرمختگ څرنگه شونی کېږي. په بله وینا د یوه هېواد د اقتصادي پرمختیا عوامل کوم دي، چې د هغو په واسطه په هېواد کې اقتصادي پرمختیا شونې کېږي.

دې پوښتنې ته د ځواب ویلو لپاره ښاغلي شوکت الله عابد په دې رساله کې ډېرې مسئلې څېړلي دي، په تیره دغه موضوع یې زمونږ په گران هېواد افغانستان کې د مثالونو، ارقامو او شننو په رڼا کې په ډېر ښه شان بیان او تر ډېره بریده یې روڼ انځور د هېواد د نننې اقتصادي ټولنیزې وضع په ښودولو سره او د هېواد اقتصادي پرمختیا عوامل د اقتصادي تیوریو او د اقتصاد پوهانو د نظریو په پام کې نیولو سره په ډېر ښه شکل څېړلي ده او په ډېرو برخو کې یې د ستونزو حل لارې په گوته کړې دي.

دغه رساله په پنځو څپرکو، پایله او وړاندیزونو سره بشپړه شوې ده. په لومړي څپرکي کې د اقتصادي ودی او پرمختیا مفهومونو تر سرلیک لاندې د اقتصادي ودې او پرمختیا مفهومونه (د اقتصادي پرمختیا کلاسیک مفهوم او مدرن مفهوم) او همدارنگه په متوازنه او غیر متوازنه اقتصادي پرمختیا باندی بحث کړی او ډېر ښه معلومات وړاندې شوي دي.

په دویم څپرکي کې د اقتصادي ودې عواملو تر سرلیک لاندی اقتصادي او غیر اقتصادي عوامل واضح شوي او ورسره یې ټولنیز عوامل سیاسی او تشکیلاتی عوامل او دا چی هېواد کی څرنگه اقتصادي پرمختیا شونې کېدای شي، مفصل بحث کړی، د مثالونه او ارقامو په وړاندی کولو سره یې موضوع څېړلې ده.

په درېیم څپرکي کې پانگونه او په اقتصاد یې اغېزې ترعنوان لاندې پر پانگې او ډولونو یې سربېره بهرنۍ مستقیمه پانگونه او په هېواد کې بهرنۍ مستقیمې پانگونې لپاره فرصتونه او ننگونې او همدارنگه په اقتصادي پرمختیا کې د پانگونې اغېزې او په هېواد کې د پانگې د کموالي په علتونو باندې گټور بحث کړی علتونو یې را برسېره او د پانگې د بازار کمزورتیا، امنیتی ننگونې او نور اړوند مسایل یې په ښه شان څېړلي دي او په دې برخه کې یې یو روڼ انځور وړاندې کړی دی.

په څلورم څپرکي کې د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې د ځینو اقتصادي برخو؛ لکه کرنې او مالداري ، اوبه، ځنگلونه، صنعت او کانونو، سوداگرۍ او ټولنیزو برخو کې، ښوونې او روزنې، ملي امنیت او سیاسي ثبات، ټرانزیټ اوبندرونو رول په ښه ډول واضح او څېړل شوی دی.

په پنځم څپرکي کې د یوې ټولنې لرې پرتو سیمو اقتصادي پرمختیا ته له تیوریکي او عملي اړخه په عمومی ډول او د گران هېواد افغانستان د لرې پرتو سیمو اقتصادي وضعې او پرمختیا ته په خاص ډول لنډه کتنه شوې او خورا په ارزښتمن ډول څېړل شوي او له گټو وړاندیزونو سره بحث ختم شوی دی، چې له اهمیت څخه ډک کار یې بولم.

د دې رسالې په ليکولو کې له ۸۹ معتبرو مأخذونو څخه يې ګټه اخيستل شوې ده چې د دې رسالې اهميت يې لا زيات کړی دی.

نو په دې توګه پورته بحثونو او څېړنو ته په کتو زه دغه رساله علمي او څېړنيزه ارزوم او د هېواد اقتصادي پرمختيا لپاره يې يوه ګټوره رساله بولم او د چاپ سپارښتنه يې کوم ترڅو د اقتصاد د علم مينه‌وال او اقتصادي کارپوهان ورڅخه استفاده وکړای شي.

**څېړنپوه حفيظ الله حداد**

# نظر

بر اساس فیصله شورای علمی انستیتوت اقتصاد مرکز علوم اجتماعی، اثر محترم شوکت الله عابد تحت عنوان «د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل» غرض ابراز نظر در خصوص مبرمیت چاپ آن به این جانب سپرده شد. اثر را مطالعه نموده و اصلاحات لازم را جهت غنامندی آن به محترم عابد صاحب توصیه نمودم. محترم عابد صاحب با سعی و تلاش خستگی ناپذیر اصلاحات لازم را وارد نمودند.

اثر مذکور دارای پنج فصل بوده که هم از نظر تیوریک موضوعات مهم انکشاف اقتصادی را در برمیگیرد و هم با درنظرداشت شرایط افغانستان چگونگی توسعه سکتورهای مختلف اقتصادی را به بررسی گرفته است. در دو فصل نخست اثر، مباحث و اساسات انکشاف اقتصادی توضیح گردیده است؛ فصل سوم به توضیح سرمایه گذاری خارجی و چالش ها و فرصتهای آن در افغانستان اختصاص یافته است.

در فصل چهارم اثرات عوامل اقتصادی و اجتماعی بر توسعه اقتصادی افغانستان به بحث گرفته شده که در برگیرنده سکتور های زراعت و مالداری، مدیریت آبها، صنعت و معادن، تجارت و ترانزیت، معارف و امنیت می‌باشد. در فصل پنجم، بر اقتصاد روستایی و چالشهای موجود در برابر آن بحث های مفید صورت گرفته است.

اثر مذکور دارای محتوای متنوع بوده معلومات مهم را در خصوص سکتور های مختلف اقتصادی افغانستان ارائه می‌نماید و برای علاقمندان، محصلین و سایر دستاندرکاران رشته اقتصاد معلومات مفید را ارائه می‌نماید، در اخیر موفقیت های مزید را برای محقق جوان آرزو می‌نمایم.

**با احترام**

**معاون سرمحقق محمد ولید همت**

**عضو انستیتوت اقتصاد اکادمی علوم افغانستان**

## سریزه

پیاوړی اقتصاد، د بشـر له بنسټیزو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي، نو بشر هم تل د اقتصادي پرمختیا لپاره رغنده گامونه پورته کړي دي او انسانـي ټولنه دې پایلې ته رسېدلې ده چې ښه اقتصاد، د ښې او باکیفیته ښوونې او روزنې، ښه روغتیایي سیستم، د عامه ثروت او د پرمختللي زراعت او صنعت سبب کېدلای شي. همدارنگه یو ښه اقتصاد کولای شي چې ټولې ستونزې په اسانتیاوو او فرصتونو بدلې کړي.

دا چې د اقتصاد علم د نورو ټولو علومو سره متقابلې اړیکـې لـري، نـو ویـلای شو چې د اقتصاد علم له نورو علومو سره او نـور علـوم هـم لـه اقتصـاد سره مرسـته کوي. اقتصاد نورو علومو ته د بـدلون او پرمختـگ لار برابـروي او د نـورو علومـو وده، اقتصادي ودې او پرمختیا ته زمینه برابروي. یا پـه بلـه وینـا د اقتصـاد علـم لـه نورو ټولو علومو څخه اوبـه څښـي او بـالاخره دا علـم نـورو ټولـو علومـو تـه اوبـه ورکوي. له بله پلوه د اقتصادي پرمختیا او ځان بسیاینې لپاره اړینـه ده چـې د وگـړو او ټولنـو تـرمنځ اړیکـې ایجـاد، تعریـف او بډایـه شي. دا اړیکـې د سرچینـو پـه مدیریت او د هغو په کارولو ښه تاثیرات لرلی شي چې له همدې املـه د سرچینـو د مدیریت ارزښت په اقتصـادي پرمختیـا کـې د بحـث وړ دی. لکـه چـې وایـو: کـه چېرې یو هېواد هر څومره کانونه او طبیعي سرچینې ولري او د سرچینو کارول او له هغې څخه د گټې اخستنې پوهـه او مـدیریت ونـه لـري، نـو د یـاد هېـواد او ټـولنې اقتصادي وضعیت په اسانۍ سره بدلون نه شي کولای، ممکن داسې ورته هېوادونـه تـر ډېـره لگښـتي اقتصـاد لرونکـي او یـا هـم نـورو هېوادونـو تـه اړمـن پـاتې شي. همداشان ویلی شو چې پوهـه او مـدیریت هغـه څـه دي چـې د اقتصـاد، هنرونـو، تخنیکونو او نورو علومو د بحثونو اصلي محتوا جوړوي. پر همدې اسـاس کـه یـو

هېواد صنعتي فابريکي، د زراعت لپاره پراخه کرنيزه ځمکه هم ولـري، خو کـه مـؤثر، کارا او د پايلو پر بنسټ د همدې برخو مـديريت ونـه لـري، هغـه هېـواد هېڅکلـه پـه خپل ځان متکي کيدای نه شي. د همدې بنيادي علتونو پر بنسټ د اقتصـاد د علـم ارزښت د نـورو علومـو پـه څنـگ کـې د ورځنـي ژونـد د بقـاء او پرمختيـا اسـاس تشکيلوي او د ښه اقتصاد پـه نـه لرلـو ســـره يـو هېـواد او وگـړي يـې د تـل پـاتې کړکېچونو او بدبختيو سره مخامخ کېږي. دا څـــــو وروستی لسيزې چې زموږ پـه هېواد کې د بدبختی ټغر خپور دی، عمده سبب يې کمزوری اقتصاد او بېرته پـاتې اقتصادي حالت دی، چې متضادو پاليسـيو، کمـزورو تگـلارو او کمـزوري دولتـي ستراتېژيک مـديريت او پراختيـايي پروگرامونـو لـه املـه رامنځتـه شـوی دی او پـه ولسونو کې يې بې باوري خپره کړې ده. د همـدې بـدبختيو او نـادودو د لـه منځـه وړولو لپاره اړ يو، چې د ټولو موضوعاتو لپاره ټوليز علمي او پر ځای روښانه ټاکل شوې موخې ولـرو، چـې پـه دې ټولـو کـې د هـر مبحـث څخـه د مخـه اقتصـادي پرمختيا او ودې بحث کـول لـومړنی اړتيـا ده او د دغـې اړتيـا د پـوره کولـو لپـاره د اقتصاد پوهنې او اقتصادي پرمختيا ټولو اړينو اړخونـو او ځـانگو پېژنـدلو ترڅنـگ هغه عوامل چې اقتصادي پرمختيا شونې کوي؛ پېژندل يې اړين بحث دی.

هـــمدا راز ويلی شو چې اقتصاد پوهانو او د دې علم متخصصينو د يوه هېواد د اقتصادي پرمختيا او اقتصادي ودې لپاره ډېرې تيوری او علمي نظريات ټولنو تـه وړاندې کړې چې د هـــرې لارې او ميتـود ارزښـت يـې پـه خپـل وار ســـره پـه اقتصـــــادي وده او پرمختيـا کــــې مرسـته کـولای شي. د ټولـو مبـاحثو نتـايج د اقتصادي پرمختيا او ودې وړانديزونه وړاندې کوي، خو سره له دې ټولنې د يـو لـړ ستونزو؛ لکه فقر او غربت، د ټـولنيز عـدالت نـه شـتون، ناانډولـه پرمختيـا، د وگـړو ترمنځ د پانگې او اسانتياوو ناانډوله وېش، د غذايي موادو کمښـت، مـالي او اداري

فساد، د بډایو او بې وزلو وګړو تـرمنځ د واټـن جوړېـدل، طبقـاتي ژونـد او داسـې نورې ستونزې د ټولنې له اقتصاد سره سیده اړیکه لري. زمـونږ هېـواد هـم لـه ډېـرو کلونو راهیسې پورته یادو ستونزو سره مخامخ دی، اقتصادي تړاو، وروسته والـی، د اوږد مهال لپاره د پرمختیایي مکانیزمونو کمـزوري حالـت او سـیاسي کشمکشـونه هغه څه دي چې د عامه خلکو د ژوند سطحه یې تر دې دمه ټیټـه سـاتلې ده، چـې همدې ټولنېزو- اقتصادي ننګونو ته د حل لارو د وضع کولو په موخـه د اقتصـادي پرمختګ عوامل په نښه کول اساسي اړتیا ده.

لکه څرنګه چې اقتصاد پوهان پـه اقتصـادي پرمختیـا کـې د اقتصـادي عواملـو ونډه مـؤثره او مهمـه ګڼـي، همداسـې د پرمختیـا پـه حـال کـې هېوادونـو او ټولنـو (Developing Countries and Socities) د اقتصـــادي پرمختیـــا لپـــاره د نااقتصادي عواملو ونډه هم اړینه ده. د اقتصادي پرمختیا په تیوریو او ادبیاتو کـې د اقتصادي عواملو په ځانګړي ډول د پانګې په زیـاتوالي او پـر پـانګونې ډېـر تاکیـد شـوی دی. همـدا راز، دا هـم څرګنـده ده، چـې د افغانسـتان پـه اقتصـادي وده او پرمختیا کې پورته یاد دواړه عوامل مهم رول لـري. پـه راتلـوونکي بحثونـو کـې بـه وګورو چې د اقتصادي پرمختیا غیر اقتصادي عواملو پـه اقتصـادي عواملـو څـومره تأثیر غورځولی دی؟ لکه امنیت پـه پـانګونې، د صـنعت پـه برخـه کـې د مسـلکي کادرونو کمښت او داسې نور... د اقتصـادي پرمختیـا غیـر اقتصـادي عوامـل؛ لکـه عامه نظم، امنیت، سیاسي ټیکاو، زده کړیز مـوثر سیسـتم، کـاري وجـدان، د وګـړو ګډون، خلاقیت، ښایسته سالاري، قانونمندي او داسې نور عوامل او د افغانسـتان د اقتصادي پرمختیا ځینې اقتصادي عوامل چې موږ یې د اقتصـادي ودې او پرمختیـا لپاره ملي لومړیتوبونه بولو؛ په دې اثر کې د بحث لاندې نیول شـوي او همدارنګـه

دا چې افغانستان د جیوپولټیک له نظره په سیمه کې خورا ډېر ارزښت لرونکی هېواد دی، منځنی اسیا او د جنوبي اسیا د وصل د کړی له نظره، د دې هېواد د لرې پرتو سیمو پرمختګ او اقتصادي پرمختیا هم اړینه ده، ځکه زموږ هېواد د همدې سیمو او جغرافیوي نقطو په وسیله کورنیو، سیمه ییزو او نړیوالو لویو ترانزیتي لارو او بندرونو ته لار مومي، نو په همدې موخه د لرې پرتو سیمو په ستونزو او حل لارو هم بحث شوی دی، چې د دې موضوعاتو څېړنه او په همدې برخو کې عملي لارې چارې مطرح او پلې کول د هېواد د اقتصادي پرمختیا لپاره اړین لومړیتوبونه او محورونه ګڼل کېږي. دا او دې ته ورته موضوعاتو باندې مو په دې اثر کې په پنځو فصلونو کې بحث کړی دی. په لومړي فصل کې د اقتصادي ودې او اقتصادي پرمختیا د پېژندې لپاره ځینې مفاهم تشریح شوي دي، دویم فصل د اقتصادي ودې او پرمختیا عواملو ته ځانګړی شوی او پر دې بحث شوی چې کوم عوامل په نظر کې ونیول شي تر څو ټولنې په ځانګړی توګه افغانستان اقتصاد وده وکړي او تر اقتصادي پرمختیا ورسېږي. له دې وروسته په دریېم فصل کې پر پانګې او پانګونې بحث شوی دی، دا چې افغانستان د پرمختګ په حال کې هېواد دی او د دې هېواد تېر او اوسني اقتصادي وضعیت ته په کتو د پانګونې ارزښت او اغېز ډېر مهم او ستراتیژیک دی. د افغانستان په اقتصادي سکتورونو کې د پانګونې اغېزو ته په کتو په همدې فصل کې د پانګونې پر پېژندنه، په افغانستان کې یې شته فرصتونه او ننګونې راسپړل شوي دي. د دې اثر څلورم فصل د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې د ځینو اقتصادي او ټولنیزو برخو اغېزو تشریح او څېړلو ته ځانګړی شوی دی او د څېړنې په اوږدو کې اقتصادي سکتورونه او د افغانستان په اقتصاد کې د هغو د

اهمیت اړوند مباحث مطرح شوي دي. همداشان ځینې هغه فرصتونه چې د دې ټولنې د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره اړین دي، وړاندې شوي دي. باید وویل شي چې د همدې فصل په ډېرو برخو کې سکتوري اداراتو ته لازم وړاندیزونه او طرحې پیشنهاد شوي چې د دوی په کاري او ستراتیژیکو پلانونو کې په نظر کې ونیول شي او هغه مباحث چې مخکې له مخکې د دوی په کاري پلانونو او پروګرامونو کې شامل وي؛ د پراختیا او لا مؤثریت لپاره پرې تأکید شوی دی. د دې اثر په ورستي فصل کې په اقتصادي پرمختیا کې د لرې پرتو سیمو په نقش بحث شوی دی او د همدې موضوع د اهمیت له کبله د دې سېمو د پرمختیا په وړاندې پرتې ستونزې راسپړل شوي او تر ممکنه حده پورې د حل لارې چارې هم وړاندې شوي دي.

په ټوله کې باید یادونه وشي چې د افغانستان د اقتصادي پرمختیا او په دې هېواد کې د دومداره او پایدار اقتصادي پرمختګ لپاره د پرمختیا ټولو اړخونو لکه ټولنیزه پرمختیا، سیاسي پرمختیا، اقتصادي پرمختیا او فرهنګي پرمختیا ته توجه وشي او له ټولو هغو فرصتونو څخه ګټه پورته شي چې د دې هېواد د پرمختګ لپاره اړین دي. د یادونې وړ ده چې په دې اثر کې یاد شوي مباحث لا پراختیا ته اړمن دي او په دې اړه په بېلابېلو سکتورونو کې علمي څېړنو ته اړتیا ده، چې په اقتصادي او ټولنیزو سکتورونو کې د شته بالقوه فرصتونو څخه ګټه پورته شي او هېواد مو پرمختیا ته ورسېږي.

د یادولو وړ ده چې په دې اثر کې ذکر شوي موضوعات په ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ل کلونو کې لیکل شوي دي چې وروسته بیا دا اثر د افغانستان دعلومو اکاډمۍ د اقتصاد انستیتوت استادانو هر یو: څېړنپوه حفظ الله حداد او څېړنوال محمد ولید همت ته وسپارل شو چې دغو استادانو د دې اثر د بشپړېدو لپاره لازمې

لارښوونې، سپارښتنې او مشورې راکړې او ما هم له اړتیاسره سم تطبیق کړې چې له امله یې له دوی څانګړې مننه کوم. همدارنګه څیړندوی احسان الحق کبیر هم د څانګړې مننې وړ دی چې د کتاب په ژبنې ایډیټ او ډیزاین کې یې ستړې وګاللې، په پای کې *اسلامي او افغاني ارزښتونو ته د واقعي ژمنې تولنې او د پایښت لرونکې اقتصادي پرمختیا په هیله.*